# ناسمه مرسته زیان رسوونکی ده

د کوم ځای څخه سمه مرسته ترلاسه کړو

**کله چې تاسو د خپل کډوالۍ د اسنادو په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ، نو اړینه ده چې سمه مرسته ترلاسه کړئ. دا لارښووني تعقیب کړه:**

**1 له باوري ځای څخه مرسته ترلاسه کړی**

✓ **څه باید وکړو**: د باور وړ ویبپاڼي وکاروی تر څو یو جواز لرونکی وکیل یا منظور شوی استازی پیدا کړئ.

**د باور وړ ویبپاڼه:** DOJ Recognition & Accreditation Program (د DOJ د پیژندنې او اعتبار پروګرام)

**د باور وړ ویبپاڼه:** Catholic Legal Immigration Network Affiliate Directory (د کاتولیک قانوني کډوالۍ شبکې د ملګرو لارښود)

**د باور وړ ویبپاڼه:** National Immigration Legal Services Directory – Immigration Advocates Network (د ملي کډوالۍ قانوني خدماتو لارښود – د کډوالۍ د مدافعینو شبکه)

✗ **څه باید ونه کړو**: په ټولنیزو رسنیو کې د مرستې لټون مه کوه او مه هم د خدماتو لپاره پیسې ورکوه.

**2 له پیل مخکې په لګښتونو باندې ځان پوه کړی**

- د شخصي وکیلانو فیس اخلي. د فیس د تادیې پلان په اړه پوښتنه وکړه.
- خیریه اداری ښایي وړیا یا لږ لګښته مرسته وکړي ("وړیا " مرسته).

✓ **پوښتنه وکړی: دا به څومره لګښت ولري؟ ایا د حکومت فیسونه شته؟**

**3 احتیاط کوی چې په چا باید باور کوی**

- ځیني کسان ځانونه وکیلان یا د کډوالۍ مامورین یا استازي معرفي کوی.
- له هغو کسانو څخه خبر اوسه چې په ټولنیزو رسنیو کې درسره اړیکه نیسي یا تا ته زنګ وهي او پیسې غواړي.
- د ټولنې غړي چې جواز نه لري ممکن مرسته کول وغواړي، خو تېروتنې یې جدي او ګراني تمامېدی شي.

✗ **هېڅکله چا ته آنلاین یا د ټیلیفون له لارې پیسې مه ورکوی که په ناڅاپه توګه یې درڅخه غوښتنه وکړه.**

**4 د موکل په توګه خپل حقوق وپیژنه**

- اصلي قانوني مرسته کوونکی به درته لیکلی قرارداد درکړي.
- ته حق لرې چې ټول اسناد او فورمې حکومت ته له لېږلو مخکې وګورې.
- ته حق لرې چې د خپلې دوسیې د هر څه کاپي ولرې.

✓ **ته حق لرې چې پوه شې څه روان دي.**

**5 له خپلو ملګرو او کورنۍ سره یې شریک کړه**

✓ **څه باید وکړو**: دا لارښود له خپلې ټولنې سره شریک کړه. که یو ښه حقوقی مرسته کوونکی پیدا کړې نور ته هم خبر کړی .

✓ **څه باید وکړو: خپلو ملګرو سره مرسته وکړه چې له جعلي مرسته کوونکو خوندي پاتې شي.**

**څنګه وګورو چې یو څوک ریښتینی حقوقی مرسته کوونکی (وکیل) دی**

- د هغه نوم او د هغه د اداري نوم غوښتنه وکړی.
- هغه د عدلیه وزارت ( DOJ) په ویبپاڼه کې یا د باور وړ حقوقی استازو یا وکیلانو لارښود کې ولټوه.
- د هغه له اداري سره اړیکه ونیسه تر څو ډاډ ترلاسه کړې چې هغه شخص هلته کار کوي.
- د پیسو ورکولو مخکې د هغه جواز وګوره.
- که څه ناسم ښکاري، ودریږه. له داسې چا مشوره واخله چې باور پرې لرې.

**اړین: یوازې وکیلان او د DOJ منظور شوي استازي کولی شي په قانوني ډول ستا سره د کډوالۍ په اسنادو کې مرسته وکړي. د کډوالۍ خدماتو لپاره بل چا ته پیسې مه ورکوئ.**